ليکوونکی: سید عبدالقهار (سیدي)

بسم الله الرحمن الرحیم

مقاله

## چاپیریال (Environment)

د هر څه نه مخکي به اول چاپیریال وپیژنو. د چاپیریال سره موږ او تاسي ډېر ښه اشنا یو چاپیریال هر هغه څه ته ویل کیږي چي زموږ پر شا وخوا موجود دي او د انسانانو او نورو ژوندیو موجوداتو په ژوند په مستقیم او غیر مستقیم ډول اغېزه لري لکه اوبه ،هوا ،خاوره،نباتات،حیوانات او داسي نور...

دا چې نفوذ د مخکي په پرتله زیات شوی او لا هم د ډیریدو په حال کښې دی او د انسانانو د ډیرښت سره هغه ستونزي چي را ولاړې سوي دی لکه د کلونو کلونو جنګونه د چټلۍ زیاتوالی د عامه پوهاوي نه شتون د کدرونو نشتوالي تر څو د چاپیریال چټلې مدیریت شي او داسي نور... دا ټولې هغه ستونزې دې چاپیریال یی د خطر سره مخ کړی یعني چټل کړی یی دي. دا چي د ژوندیو موجوداتو ژوند د چاپیرال سره تړلی دي نو ځکه د هغوی ژوند اوس د خطر سره مخ دي.

د مصروفیت او وخت په نظر کښې نیولو سره غواړم چې هغه لوي عوامل د چاپیریال د تشکیل چي اوس ډیر زیانمن شوې او د ټولو حیه او غیر حیه اجسامو د نابود کیدو علت جوړ شوی واضح کړم تر څنګ یي علتونه او حل لارې یي هم درسره شریکي کړم چي هغه دري لوي عوامل عبارت د هوا ، اوبه او خاوري څخه دي.

اول د هوا ککړتیا.

د WHO د راپور له مخي هر کال په ټوله نړۍ کښې ۷ میلیونه انسانان د چاپیریال د چټلۍ څخه مړه کیږي چې یو عامل د دي مړینی د هوا ککړتیا ده چې د هغه له وجهي په هر کال په

زياته اندازه انسانان په تنفسي ناروغيو اخته او مړه کيږي چې هغه ناروغۍ عبارت دي له سږو سرطان،شديد تنفسي ناروغۍ او بل ښه مثال يې د کرونا او با هم کيدلای سي چې تر او سه لا علاجه ده او تر اوسه داسي نور... چې عمده علتونه يې په لاندي ډول دي.

۱.فابريکي ( کارخونې ) ( Companies ). کارخونې په ټوله نړۍ کښې د هوا د ککړتيا يو د عمده علتونو څخه دي چې هر کال په زرهاوو مکعب ټن کيمياوي غازات او کاربن دای اکسايد د مختلفو موادو د سونگ په نتيجه کښې توليدوي او هوا ته يې ليږدوي همدغه د هوا ککړتيا ده چي د پورته مرضونو او مړيني سبب کيږي او د هغه تر څنگ د اوزون طبقه چي د لمر وړانګي تصفيه کوي او هغه موضري وړانګې نه پريږدي چي مځکي ته راسي او د ټولو حيه او غير حيه موجوداتو ژوند د خطر سره مخ کړي هم تخريبوي او له منځه يې وړي .

۲.انتقال( Transportation ). داچي دنيا هميشه د پرمختګ په حال کښې ده نو انتقال وسائطو هم ډير تغير کړي او س د پښو د تګ ، او پر حيواناتو د تګ يا انتقال پر ځای د موټرسيکل ، موټر ، طياره،ريل او نورو داسي وسائطو څخه استفاده کيږي چي انسانان کولای چې په اسانۍ سره ديوه ځای څخه بل ځای ته هر څه چې غواړي نقل کړي مګر ددغه هوسايني سره سره په دغه ټولو ذکر شوو وسائطو کښې د سونګ توکي کارول کيږي نو د سونګ توکي يعني کاربن دای اکسايد نو بل لامل د هوا د ککړتيا وسائط دي.

۳.زراعت ( Agriculture ). زراعت هم يو د عمده لاملونو څخه د هوا د ککړتيا دی هغه داسي چي او س تر ډيره زراعتي مځکي او ځنګلونه د لمنځه تلو په حال کښې دي او پر ځاي يي د انفوذ د ډيرښت له امله کورونه او کارخاني جوړيږي چې په نتيجه کښې يې هوا نه پلټريږي او ناپاکه پاته کيږي او همدارنګه د حشراتو د وژني سپريګاني يا دواوي کارول هم هوا ته زيان رسولي دی.

۴.تجارت ( Trade ). تجارتي فعاليتونو هم هوا ته زيان رسولي هغه داسي چي يوه موضوع يي بيرته انتقال ته راجع کيږي چي مخکي مو تشريح کړه او همدارنګه د سونګ توکي او کارخونو ته هم اشاره کيږي چي هغه هم مخکي يادي شوي.

۵.اوسيدنه ( Residence ). داچي انسانان په دنيا کې ژوند کوي هميشه د پرمختګ په حال کښي دي نو ددوي ددي پرمختګ سره سره ډيري ستونزي هم روالاړي کړي دي چي چاپيريال ته يي سخت زيان رسولی او اوس ټوله دنيا يي د لمنځه تلو سره مخامخ کړي ده چي يو د هغه څخه عبارت دي د ښارونو معياري جوړول او د ښار څخه دباندي د کارخونو جوړول که د يوه اړخه دا دواړه د ژوند کولو يو معيار جوړوي او د خلکو کارونه اسانه او اقتصاد ته وده ورکوي خو له بله پلوه بيا د ټوله دنيا واقليم ته تغير ورکړي او د تودوخي درجه يې لوړه کړي او لاهم د لوړيدو په حال کښي ده همدا لامل دي چي بي وخته بارانونه ،توپانونه،زلزلې او د لويو ځنګلونو اور اخستنه يي په وجود راوړي چې ټوله نړی ته لوې ګواښونه دي او هر کال ددغه طبعي پيښنو څخه په زرهاوو خلک خپل ژوند له لاسه ورکوي او په ميليونونه خلک بي کوره کيږي.

د خاوري ککړتيا.

خاوره هم د چاپيريال د جوړښت يو لوي او ارزښتناک عامل دی چې او په زياته اندازه تخريب شوی دي چې لاملونه يي عبارت دي له

۱.کارخاني (Companies) . د کارخونو يادونه مو د هوا په چټلی کښي هم وکړل او دلته يي هم يادوه کوه ځکه چې د ځمکي په ککړتيا کښي هم لوی لاس لري ځکه همدغه کارخوني دي چي وسلې او چاوديدونکي مواد جوړوي کيميا وي وسلي جوړوي چې استعمال يي په جنګونو کښي هم د هوا او هم د ځمکي د ککړتيا سبب کيږي چي ښه مثال يي د چاپان هيواد يادولای سو پر کوم چي د امريکا لخوا اتم بم وکارول سو او تر اوسه پر هغه ځمکه کښته نه کيږي يعني هغه د ځمکي حجرات يي لا د منځه وړي دي.

۲.انتقال( Transportation ). انتقال هم د خاوري په ککړتيا کښي مهم رول لري هغه داسي چې د تيلو او يا ګازو او يا نورو ليمياوي موادو ليږد او د هغه لکيچ تر مځکي لاندي يا د ځمکي پر سر د ځمکي د ککړتيا سبب کيږي.

۳.زراعت ( Agriculture ). په زراعت کښي د کيمياوي او زهرجنو موادو (زراعتي دوا) استعمال نه داچې ځمکه ککړوي تر څنګ يي هغه مفيدي حشري چې د ځمکي لپاره ګټوري دي هم لمنځه وړي چې غير مستقيم يي زيان ځمکي ته رسيږي.

۴.تجارت ( Trade ). تجارت چې په ټوله نړی کښې د اقتصاد منبع او د اقتصادي جنګ د وسلي په توګه ورڅخه کار اخستل کيږي او اوس د نړي زياته برخه تجارت پلاستيک جوړوي او همدارنګه توليد او استعمال يي هم د نورو موادو په پرتله زيات دی او په نړی کښي د ځمکي د ککړتيا يو د لويو لاملونو څخه دی او همدغه پلاستيک دی چې په ښارونو کښي د سيلابونو د راوتلو لامل ګرځي د کاناليزاسيون سيستم يي وجاړ کړی يا په بله اصطلاح بند کړی دی او اوس په ټوله نړي کښي د کچري توليدولو تر ټولو لويه برخه پلاستيک جوړوي. په ورځني ژوند کښي هم د پلاستيک څخه د بسته بندي ، کڅوړو ، دکورونو جوړولو ،زراعت ،ورځني د ضرورت اسباب او که په خلص ډول ووايو نژدي په هر شي کښي استعماليږي.

۵.جنګونه ( Wars ) . جنګونه هم يو د عاملينو څخه دی د خاوري د ککړتيا ځکه په جنګونو کښي باروت او نورو کيمياوي موادو څخه کار اخستل کيږي چي هم هوا ته د هغه دود پورته کيږي او بيا د بارانونو په مرسته بيرته مځکي ته راکښته کيږي او ځمکو او نباتاتو ته زيان رسوي او ځمکه د وخت په تيريدو سره ځمکه کمزوره کيږي او هغسي حاصل نه ورکوي.

د اوبو ککړتيا.

داچې او به د ژوند کولو لپاره تر ټولو مهمه ماده ده او بغیر د اوبو څخه ژوند امکان نه کري او همدارنګه د چاپیریال یو مهمه برخه جوړوي نو ځکه یي د ککړتیا څني لاملینو اړین بولم.

د اوبو په ککړتیا کښې هم پورته لاملونه په مستقیم او غیر مستقیم ډول اغیزه لري.

۱. کارخوني (Companies). ځینې لویې کمپنۍ چې کیمیاوي مواد ، دواوي ، وسلې او نور څه جوړوي او فاضله مواد یي اوبو یعني سمندرو یا رودونو ته اچوي چې هم اوبه ککړوي او هم د سمندري حیواناتو ژوند اخلي او یا په غیر مستقیم ډول د انسانانو ژوند اخلي ځکه چې انسانان بیرته د سمندري حیواناتو د تولیداتو څخه استفاده کوي.

۲.انتقال ( Transportation ). د اوبو له لاري د تیلو او ګازو اویا نورو کیمیاوي موادو انتقال چې ځیني وختونه د لکیج یا غرقیدو له امله اوبه ککړوي او همدارنګه د سمندري حیواناتو ژوند اخلي.

۳.پلاستیک ( Plastic ). پلاستیک هم داوبو د ککړتیا یو د لویو لاملونو څخه دی اوس په لویو سمندرونو کښې د غرونو په څیر د پلاستیک کچره پرته ده چې د دغه کچرو او د اوبو د تعملاتو څخه برقي جټکي په وجود راځي چې نه یواځې د سمندري حیواناتو ژوند اخلي بلکي تر څنګ یي هګۍ او نسل هم له منځه وړي همدارنګه هغه کوچنۍ ټوټي چي د دغه کچرو څخه جلا کیږي د ماحیانو خورک کیږي او کله چې انسانان د هغو ماحیانو څخه د خورک څخه استفاده کوي نو په ډول ډول ناروغیو اخته کیږي او کیداي سي چې نوي ناروغۍ هم ورڅخه رامنځ ته شي لکه د کرونا اوبا چي کیداي سي د همدغه سببه په وجود راغلي وي.

دا پورته ټولو لاملونو د چاپیریال پر مختلفو اقشارو یا قشرونو منفي اغیزي کړي دي چي عبارت دي له

۱. داچي الله (ج) دا دنيا د انسانانو لپاره پيدا کړي نو ويلای سو چې تر ټولو اهم قشر انسان دي چې د متائثير شوي دي د چاپيريال د دغو زيانونو څخه.

۲.پر حيواناتو که ځمکني او که بحري دي تائثير يي کړي او دهغو ژوند يي په خطر کښني اچولی دی.

۳.نباتات هم د چاپيريال د ککړتيا څخه متائثير شوي او د لمنځه تللو په حال کښني دي ځکه تيزابي بارانونه کيمياوي وسلو کارول او د حشراتو د وژني سپری کارول او همدارنګه د وچ اقليم له وجهي هر کال د ځنګلونو سوځيد هغه څه دي چې د نباتاتو ژوند يي د خطر سره مخ کړی.

حل لاري

۱. د چاپيريال ساتني پر پلانونو بايد فکر وسي د چاپيريال ساتني ،روغتيا نړيوال سازمان او نورو هغو ادارو سره بايد ګډ کار وسي تر څو د چاپيريال د ککړتيا لاملونه له منځه يوسي او يو سالم چاپيريال رامنځ ته کړي.

۲. د يو سالم ترانسپورټ سيستم جوړول تر څو د دود د توليد مخه ونيول سي د سونګ د توکو پر ځای برقي يا شمسي ترانسپورټ را منځ ته سي.

۳.د نړي باقدرته هيوادو نو ته قناعت ورکول سي تر څو جنګونه کم او په خاص ډول د کيمياوي وسلو د استعمال مخنوی وسي.

۴. په کارخونو کښني د ډبرو سکرو ، ګاز او نورو سونګ توکو پر ځای د برق او سولر سستمونو څخه کار واخستل شي.

۵.زراعت ته وده ورکول د زنګلونو رغول او د چاپيريال د زرغونتيا لپاره پروژي عملي سي د پارکونو او شتو ساحو جوړول.

۶.د اوبو د پیلټرولو اوبیا استعمالو لپاره باید کار وسي.

۷. د تلویزیون ، انټرنیټ ، راډیو او ټولنیزو رسنیو له لاري عامه پوهاوی کول په خاص ډول هغه مملکتونو کښي چې چاپیریال ته يي زيات زيان رسولی وي.

۸.د شیانو بیا استعمال (ً Recycle ) د پروسي ملاتړ کول او لا قوي کول.

دا چي اوس د نړی پام و چاپیریال ساتني ته اوښتي او په ټوله دنیا کښي د جوزا د میاشتي (۱۵) چي د جون د میاشتي د (۵) سره برابره ده د چاپیریال ساتني د ورځي په نامه لمانځل کیږي چي دا خپله د دغه ورځي اهمیت بیانوي او په افغانستان کښي حکومت د چاپیریال د اهمیت په نظر کښي نیولو سره دغه ورځ په اوونۍ بدله کړل چي هر کال د جوزا د میاشتي د ۱۵ څخه د همدي میاشتي تر ۲۱ نیټي پوري لمانځل کیږي. په اخره کښي مي د ټولو مسؤلینو او عامو خلکو څخه غوښتنه داده چې راسی په ټولو سره خپل چاپیریال پاک کړو او د تیرو څخه زده کړه وکړو او خپل راتلونکي ته يو پاک او سالم چاپیریال را منځ ته کړو تر سو د يوي خوا مو خپل صحت سالم پاته وي او د بله اړخه خپلو اولادو ته د هغو حق یعني يو سالم چاپیریال رامنځ ته کړو او روزنه ورکړو چي هغوي همدغه امانت په ښه شکل خپلو اولادو ته ورسوي.

مننه.